# ماشومانو مقدس کتاب
## وړاندې کونکے



# د اور سړے


لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: E. Frischbutter

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org



©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.




د بنی اسرائیلو د پاره ډېر مشکلات جوړ شوی وو، بادشاه او ملکې د خدائ پاک نه نفرت کولو. دا څومر خراب مثال دے! ډېر زر به خلق د خدائ پاک نه نفرت وکړی او د دروغژنو معبودانو عبادت به کوی. آیا چا خدائ پاک سره مینه کړې؟





آو بلکل، څۀ ایماندار عبادت کوونکی هم وو. یوه ورځ خدائ پاک په هغوئ کښې یو سره خبرې وکړې چې نوم یې الیاس وو.

3



نو کله چې الیاس اخی اب چې یو بدکاره بادشاه دے ووئیل، چې په مالک خدائ چې د بنی اسرائیلو ژوندے خدائ پاک دے قسم خورم چې په دې کالونو کښې به نه پرخه پرېوځی او نۀ به باران کیږی، بغیر زما نه د وینا نه.

4



د دې مطلب قحط وو! خدائ پاک خپل خلق بنی اسرائیلیان کله هم دې ته پرې نۀ ښودل چې د هغوئ په غلطو لارو باندې لاړ شی.

5



بادشاه له د خبرداری ورکولو نه پس، خدائ پاک الیاس او لرې او پُرسکونه ځائ ته ولېږلو. هلته د یو ولې په غاړه الیاس انتظار وکړو. خدائ پاک د مارغانو په ذریعه باندې هغۀ ډوډئ ورولېږله. هغه مارغانو به سحر او ماښام د هغۀ د پاره غوښه او ډوډئ راوړله. او الیاس به اوبه د هغه ولې نه څښلې.

6



ډېره زر هغه وَله هم اوچه شوه، ځکه چې په دغه زمکه باندې تر اوسه پورې باران نۀ وو شوے. او د خدائ پاک کلام رښتیا کېدو. او په ټول ملک د اوبو کمے وو.

7



فصلونه نۀ کېدل، خلق اوږی وو، کېدے شی چې الیاس حیران شوے وی چې اوس به څۀ کیږی ځکه چې اوبه اوچې شوې وې.

8



خدائ پاک الیاس ته وفرمائیل،
چې پاڅه او د صیدا سره
نزدې د صارفت ښار ته
لاړ شه او هلته کښې ایسار
شه. ما هلته یوې کونډې
ته وئیلی دی چې ستا
خیال ساتی.

9



خدائ پاک د خپل خدمت کوونکی د ضرورتونو نه خبر وو.
خو د دې پوره کولو څۀ
عجیبه انداز وو. الیاس د
خدائ پاک فرمانبرداری
وکړه. او کله چې هغه
صارفت د ښار دورازې
ته ورسېدۀ نو هغۀ یوه
کونډه ولیده چې خشاک
یې راغونډولو.

10



نو الیاس هغه ښځې ته
ووئیل چې ما له د
څښلو د پاره په یو
جام کښې لږ اوبه
راکړه چې وڅښم.
او ځان سره لږه
شان ډوډۍ هم راوړه
چې وې خورم. نو هغه
کونډې ښځې ورته په
جواب کښې ووئیل چې ما
سره ډوډۍ نشته، ما سره
په منګی کښې صرف یو
موټے اوړۀ او په
لوښي
کښې
یو څاڅکے
قدرې تېل دی.

11



هغه ښځه په خفګان سره نبی ته وائی چې مونږ سره دا ختم
شی نو زۀ او زما
زوئ به د لوږې
نه مړۀ شو.

12



الیاس هغې ته ووئیل چې تۀ یرېږه مه لاړه شه او چې څه
مې درته ووئیل نو هغه شان وکړه. خو اول تۀ زما د پاره
یو ډوډۍ پخه کړه او هغه ما له راوړه، د هغې نه پس تۀ
خپل ځان او خپل زوئ له هم پخه کړه.

13



ځکه چې تر هغه ورځې پورې ترڅو پورې چې مالک
خدائ په دې زمکه باندې باران نۀ وی ورولے نو نۀ به په
منګی اوړۀ ختم شی او نۀ به د تېلو په لوښی کښې تېل ختم
شی. خدائ پاک به دا داسې کولو د پاره معجزه کړی وی.
او هغۀ وکړه! هغه ښځه او د هغې زوئ تر ډېرو ورځو
پورې خوراک کوی خو بیا هم د اوړۀ
منګے خالی نۀ شو.
او نۀ د تېلو
په لوښی
کښې تېل
ختم شول.

14

الیاس هغوئ سره وو. یوه ورځ ډېر د خفګان خبر راغلو، د هغه کونډې زوئ مړ شو. الیاس د هغه هلک لاش بره چت وخېژولو. او مالک ته یې سوال وکړو او دعا یې ترې وغوښتله چې او مالکه خدایه زهٔ تا ته منت کوم چې دا ماشوم واپس ژوندے کړه. آیا داسې دعا کول ناممکنه دی.



15

مالک خدائ د الیاس دعا واورېدله او هغه هلک واپس ژوندے شو. لیاس هغه ماشوم خپلې مور خواته بوتلو. نو هغې ورته په جواب کښې ووئیل، اوس ما ته دا معلومه شوه چې تهٔ د خدائ پاک بنده یې. او خدائ پاک کلام کوم چې ستا په خولهٔ کښې دے هغه حق دے.



16

درې کله پس، مالک خدائ الیاس دې وئیلو سره بادشاه ولېږو، چې زهٔ به په زمکه باندې باران ووروم.



17

اخی اب له لاړ شم؟ د هغهٔ ښځې ایزبل خو مخکښې هم د خدائ پاک سل نبیان قتل کړی دی. خو الیاس بحث نهٔ کوی. او هغه اخی اب بادشاه خواته لاړو.



18

کله چې هغوئ دواړه ملاو شول. الیاس اخی اب بادشاه ته ووئیل چې اوس ټول اسرائیل او اتنیم سوه دروغژن نبیان د کرمل په غرهٔ باندې راجمع کړه. الیاس خلقو ته وفرمائیل کهٔ مالک خدائ، خدائ پاک وی نو هغهٔ پسې روان شئ.



19

الیاس هغوئ ته ووئیل چې دوه غوایان حلال کړئ او په لرګو باندې یې کېږدئ خو اور به نهٔ بلوئ. نو تاسو خپل خدائ ته سوال وکړئ او زهٔ به خپل مالک خدائ ته سوال وکړم. نو په جواب کښې چې کوم یو خدائ اور راولېږلو نو هغه به رښتونے خدائ پاک وی. نو ټولو خلق چغې کړې چې تهٔ ټیک وائې.



20

هغه دروغژنو نبیانو د سحر نه تر ماښامه پورې خپل معبود
ته سوال کولو، او چې کومه قربان ګاه يې جوړه کړې وه نو
د هغې نه ګېرچاپېره تاوېدل او ګډېدل. هغوئ خپل ځانونه د
خپل رسم په مطابق په چاکوانو او نېزو باندې دومره زخمي
کړل چې په وينو کښې لت پت
شول. خو اور رانۀ غلو.



21

بیا الیاس په قربان ګاه او
لرګو باندې اوبه واچولې او
دعا يې وکړه. او وې وئيل
اے مالک زما سوال
واوره ځکه چې دا خلق
په دې باندې پوهه شي چې
هم تۀ خدائ پاک يې. نو بيا
مالک خدائ اور نازل کړو
او دې اور نذرانه، لرګی،
او کاڼی سره د خاورو
هر څۀ وسوزول.



22



نو کله چې خلقو دا وليدل، نو هغوئ چغې
کړې. چې مالک خدائ، خدائ پاک دے، او
صرف مالک خدائ، خدائ پاک دے. بيا
الياس ووئيل، چې د بعل دا دروغژن نبيان
ونيسئ، چې په دوئ کښې درنه هم بچ
پاتې نۀ
شي. الياس هم هغه څۀ وکړل
څۀ چې اخی اب بادشاه
ډېره موده
مخکښې
کړی
وو. هغۀ هغه ټول دروغژن قتل کړل.

23



بيا د خدائ پاک خدمت
کوونکو اخی اب ته ووئيل
چې باران کېدو والا دے. او ډېره
زره نرئ وريځ راښکاره شوه. آيا د
درېو کالو د وژونکې اوچ کالئ نه
پس به هلته
کښې باران
وشی؟

24

په لږ ساعت کښې، آسمان د
وريځو او هواګانو په وجه
تور شو. او ډېر زيات باران
وشو. خدائ پاک باران
راولېږلو. خدائ پاک خلق
وليدل چې الياس هغوئ ته
حقيقت وائی. نو خدائ پاک
دا ثابته کړه چې هم هغه
واحد خدائ پاک دے.



25

تاسو څۀ وايئ چې اوس به اخی اب بادشاه د خدائ پاک او
د هغۀ د خدمت کونکی الياس عزت کوی؟ نه بلکل نه!
بلکې، ايزبل د الياس د قتلولو
کوشش وکړو. خو هغه د هلته
نه لاړو. په آخر کښې اخی اب
په جنګ مړ شو او نوکرانو
ايزبل د محل د اوچت دېوال
نه ښکته وغورزوله. هغه
لاندې په کاڼو کښې راپرېوته
او ټوټې ټوټې شوه.



26



الیاس سره څهٔ وشو؟ یوه ورځ خدائ
د آسونو یوه اور لرونکي ګادئ
راولیږله او د خدائ بنده الیاس په
یوه ګاډئ کښې آسمان ته لاړو.

27

د اور سړے

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

اول بادشاه ۱۷- ۱۹ دوېم بادشاه ۲

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."
زبور 130:119

28

# ختم شو

24

60

29

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایي. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمي او په سولی خپل ځان قربان کړي.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړی. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا ریښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲

30